# د دوښو جوابونه ورکړئ

١ .په یو -یو چټیز کور کښې د اوده کېدو د کوټو رنګ شین وه. د خوراک د کوټې رنګ سپین وه. د بېټک دیوالونه اودي وو او د غسل خانو دیوالونه ګلابي وو.

ووایي چي د پوړو د هال رنګ څنګه وه؟

جوابونه

وړومبے جواب: (دا یو چټه کور وو، نو په دې کښې پوړۍ شته او نه د پوړو هال)

٢ -زه څوک یم؟

زه ډیر خوراک راوړم. خلقو په عامه توګه زما شکل ښه لګي، خو کله کله دا ویرووںکے هم شي. زه د هر چا پکار یم، خو زه د هیچا ملکیت نه یم. دپاسه زه ډیر په سکون ښکارم، خو دا صرف یوه دهوکه ده، په اصل کښې زه ډیر ژور یم.

ووایئ چې زه څوک یم؟

دویم جواب

(سمندر)

٣ .ما د اوبو په جهاز کښې تلم. یوه ورځ د جهاز کپتان مونږه مسافرو نه تپوس وکړه: "یو مسافر زما د جهاز په یو سر ولاړ وه او بل مسافر په بل سر ولاړ وه. د دواړو سترګې اسمان ته وې، خو هغوي یو بل هم لیدلے شو. دا څنګه کېدے شي؟"

دریم جواب:

(د یو مسافر نمرخاتهٔ ته مخ وه ، هغهٔ د اسمان نه علاوه په نمرخاته ولاړ مسافر شکل هم لیدلو.

دغه رنګ بل مسافر د چا مخ چې قبلې ته وه هغه قبلې لوري ته د اسمان نه علاوه د وړومبي مسافر مخ هم لیدهٔ).

۴ .هغه کوم شے دے چې کله ئې نوم واخلی ، نو هغهٔ ورک شي؟

څلورم جواب

(خاموشي)

۵ .زما ښارونه شته خو کورونه پکښې نشته. غرونه لرم خو ونې نهٔ لرم، سیندونه لرم خو مهیان پکښي نشته. وایه زما نوم څه دے؟

پینځم جواب

(نقشه)

۶ .دے ستاسو، خو استعمالوي ئې نور خلق.

شپږم جواب

(ستاسو نوم)

۷ .هغه کوم شے دے چې په هفته کښې یو ځل راځي، په میاشته کښې یو ځل راځي، خو په سلو کالو کښې بیخي نه راځي؟

جواب

(د "ه" توری)

۸ .هغه کوم لفظ دے چې تل "غلط" لیکلے کیږي؟

جواب

(غلط)

۱۰ .ووایئ چې آیا رفیعه د صفیې نه شاته داسې ودرېدلې شي چې صفیه هم د رفیعې نه شاته وي؟

جواب

(هاو جي، که دواړه شا په شا ودریږي)

۱۰ .ستاسو په مخ باندې هغه کوم شے دے چې سيند نه دے خو بهيږي؟

جواب

(پوزه)

۱۱ .زما د ګاونډی څلور لونه دي. د هرې لور يو ورور دے. ووايئ زما د ګاونډی څو بچي دي؟

جواب

(د ګاونډی پينځه بچي دي: څلور لونه او يو زوے ،ځکه چې يو زوے د ټولو څلورو خوېندو ورور دے.)

**ليک: آمنه فريال اظفر**

**ژباړه: ډاکټر اباسين يوسفزے**